# د قلندر مومند مزاحمتي روئيې د سباوُن د شاعرۍ په تناظر کښې:

# Qalandar Momand's Resistance Perspective: A Literary Analysis in the Context of "Sabawoon"

**Dr. Javed Iqbal***

## Abstract:

This research article presents a critical analysis of the resistance poetry of distinguished Pashto poet, short story writer, researcher, critic, and translator, Qalandar Momand with a specific focus on his poetic collection Sabawoon. The study first explores the conceptual framework and historical evolution of the term "Resistance" in literature tracing its formal development particularly through Palestinian literary movements while emphasizing that the spirit of resistance predates the terminology itself, as literature has always been a voice against oppression.

Qalandar Momand stands among the prominent resistance poets of the ۲۰th century , utilizing poetry as a platform to oppose oppression, coercion, injustice, and dictatorship.His work not only advocates the oppressed class and marginalized groups of his homeland, but also expresses solidarity with oppressed nations across the world. Through detailed textual analysis, the article examines selected ghazals and poems from Sabawoon, highlighting Momand's consistent use of symbolism, metaphor, imagery, and coded expression as effective literary devices to challenge political forces and assert intellectual freedom.

The findings reveal that Qalandar Momand's resistance poetry significantly enriches modern Pashto literary discourse and aligns with global traditions of resistance literature. His poetic vision situates Sabawoon as an influential and meaningful contribution to both Pashto literature and the broader study of world literary resistance movements.

Key Words: Qalandar Momand, Pashto Poetry, Resistace Literature, Sabawoon, Symbolism

* Chairman, Department of Pashto, Islamia College Peshawar

قلندر مومند د شلمې صدۍ په هغو شاعرانو کښې شمېرلی شي چې د رومانيت نه علاوه مقصديت او حقيقت پسندي د هغهٔ د شاعرۍ يو جوت خصوصيت دی او په هم دغه تناظر کښې هغه د ترقي پسندو شاعرانو په قطار کښې هم د ځانګړې پېژندګلو شاعر ګڼلی شي - دې کښې هيڅ شک نشته چې هغه د مقصديت، حقيقت پسندۍ او ترقي پسند فکر يو نمائنده شاعر دی خو د هغهٔ په دغه جوت مقام او ځانګړې پېژندګلو کښې لوئی کردار د هغهٔ د مزاحمتي روئيو دی چې په خصوصي توګه زمونږ دانشورې طبقې تجزيه پرې نهٔ ده کړې - د قلندر مومند دوه شعري مجموعې د "سباؤن" او "رڼائي" په نومونو چاپ دي - "رڼائي" کښې شامله د قلندر مومند هغه شاعري چاپ ده چې هغهٔ په خپله په خپل ژوند نهٔ ده چاپ کړې او پهٔ سباؤن کښې چاپ شاعري د قلندر مومند خپل انتخاب دی چې په کال ۱۹۷۲ء کښې ئې په کتابي صورت کښې پښتون اولس ته پېش کړې ده- ځکه مونږ پهٔ دې ليک کښې د قلندر مومند دوه خصوصې زاوئيو ته پاملرنه او د شاعرۍ تجزيه ئې کوو- دغه دوه زاوئې دا دي:

(۱) مزاحمتي روئې

(۲) يوائې د سباؤن د شاعرۍ په تناظر کښې

مطلب دا چې زمونږ په نظر کښې به دوه خبرې په خصوصيت سره وي يو دا چې د قلندر مومند د مزاحمتي فکر و خيال تجزيه به کوو او دوېمه دا چې يوائې د سباؤن د شاعرۍ پهٔ رڼا کښې به د هغهٔ د مزاحمتي فکر و خيال جاج اخلو، خو د دغو دواړو خبرو نه وړاندې دا وضاحت هم ضروري دی چې مزاحمت څهٔ شی دی؟ ادب ته د مزاحمت اصطلاح کله او څنګه راغله؟ او ادب ته د دغه اصطلاح د راتلو نه وړاندې په ادب او شاعرۍ کښې دغه مزاحمت او مزاحمتي روئې د کله نه او په کوم شکل موجودې وې چې د شلمې صدۍ په شاعرۍ کښې ئې هم غزونې وکړې او بيا د قلندر مومند د شاعرۍ يوه جوته حواله هم جوړه شوه - مونږ که د مزاحمتي روئيو خبره کوو نو دغه روئې خو په عالمي ادب کښې او بيا په پښتو ادب کښې د صدو راسې وجود لري بلکې ځنې نقادان خو دا رائې هم لري چې ادب په خپله يوه مزاحمتي روئيه ده چې په هر دور کښې ئې خپل اظهار او ترجماني کړې ده خو مونږ چې د يوې ادبي اصطلاح پهٔ توګه د مزاحمت، مزاحمتي ادب يا مزاحمتي شاعرۍ جاج اخلو نو بيا دغه اصطلاح ډېره زړه نهٔ ده بلکې د شلمې صدۍ په اوومه لسيزه

کښې ئې رواج موندلی دی ـ په مجموعي توګه خو د مزاحمت اصطلاح ډېر پراخ مفهوم لري چې په بېلو بېلو فطري علومو (Natural sciences) او ټولنیزو علومو (Social sciences) کښې بېل بېل مفهوم لري یعنې په حیاتیاتو (Biology)، نفسیاتو (Phcychology)، عمرانیاتو (Sociology) وغېره کښې مزاحمت خپل ځانله ځانله مفهوم او معنا لري په انګرېزۍ کښې د (Resistance) توری دغو ټولو معنو د پاره استعمالېږي چې په ادب کښې دغه اصطلاح (Resistance Literature) مزاحمتي ادب په نوم یادولی شي ـ دغه پراخ مفهوم په لغت کښې په مختصره او جامعه توګه په دې لفظونو بیانولی شي ـ

"A Force that tends to oppose or retard motion " ۱

دغه جامع او مختصر مفهوم نه پرته مونږ د ادب په دائره کښې د مزاحمت څېړنه کوو او بیا د مزاحمت د نوې ادبي اصطلاح په حېث ئې هم د وضاحت هڅه کوو ـ بېخي نوي انداز کښې خو مزاحمتي ادب په یوه ټولنه کښې د امرانه روئیو او په خصوصي توګه د مارشل لاء یعنې فوجي امریت په ضد راپورته شوي اواز او ادبي روئیو نوم دی خو په مجموعي توګه ادب او تخلیقي عمل په خپله یوه مزاحمتي روئیه ده چې جرړې ئې د ډېر پخوا نه بلکې د ادب د تخلیقي عمل د وخت نه رانښلېدلې دي ـ زمونږ د عصر ترقي پسند دانشور سلیم راز د ادب د تخلیقي عمل او مزاحمتي روئیو وضاحت داسې کوي:

"څنګه چې د ادب تاریخ ډېر پخوانی دی دغسې د مزاحمتي ادب روایت هم ډېر زوړ او لرغونی دی بلکې که زۀ دا وایم چې د ادب تخلیق پخپله یو مزاحمتي عمل او د حالاتو د مزاحمت یو جذباتي عکس او فکري غبږ دی نو بې ځایه به نۀ وي ـ حقه خو دا ده چې مزاحمتي مزاج او مزاحمتي رویه پخپله یو تخلیقي انداز او تخلیقي عمل دی او دغه تخلیقي انداز او تخلیقي عمل د ادبي تخلیق یوه موثره ذریعه او طریقه ده او پخپله دا قسم ادب د مزاحمت یوه اهمه وسله او وسیله ده چې د خپل عهد د علمي شعور د څرګندونې سره سره د اولس د

اجتماعي جمالياتي حس عكاسي د تهذيبي فكر نمائندګي او د انساني جذباتو او احساساتو ترجماني كوي."۲

سليم راز دغه ادبي تخليقي عمل ځكه يوه مزاحمتي روئيه ګڼي چې په تخليقي ادب كښې انقلاب وي، بغاوت وي او د بدلون اواز وي ـ دغه وجه ده چې په هر دور كښې جابر او امر حكمران د دغه تخليقي عمل مخ نيوى كوي ـ سليم راز دې لړ كښې وړاندې ليكي:

"جابر حكمران او امريتي حكومتونه د خپل جبر او امريت د قائم ساتلو د پاره د هر څۀ نه مخكښې په ژبه پابندي ولګوي په تحرير او تقرير قدغن ولګوي ـ د اظهار په وسائلو بندشونه ولګوي او د اظهار په ذرائعو قابض شي ـ اظهار رائې يو لوى جرم وګرځوي ... د امر او امريت د خاتمې د پاره ضروري ده چې خلق مزاحمت وكړي او مزاحمت د پاره ضروري ده چې څۀ سوچ او څۀ اواز وي ـ دغه سوچ او اواز د شاعرانو، اديبانو او دانشورانو سره وي څوك چې د ناروا پابنديو باوجود څۀ وخت هم او په څۀ طريقه ځان څرګندولى شي ځكه چې د خپل فكر او خپل اواز خلقو ته د رسولو طريقه او سليقه چې شاعر او اديب ته نۀ ورځي نو چاله به ورځي شاعر، اديب او فنكار دغه علم هم لري او هنر هم پېژني او چې كله دا سوچ او اواز يعنې مزاحمتي ادب اولس ته ورسي نو د اولس په لاس كښې د مزاحمت وسله شي يو مادي قوت شي او دغه شان د علمي مزاحمت په نتيجه كښې امر سر وخوري او امريت دړې وړې شي ـ "۳

د دې نه مخكښې چې مونږ په ادب كښې د مزاحمت جديد تصور او نوې اصطلاح ته راشو بائد چې د سليم راز د رائې په مرسته كښې څو حوالې نورې هم

وړاندې کړو ـ ادب ته چې پخپله يوه مزاحمتي روئيه وئېلې شوې ده د دې رائې پهٔ مرسته کښې د اردو نوميالی نقاد ابرار احمد هم اشاره کوي او ليکي:

"ادب تخلیق کرنا بذاتِ خود ایک مزاحمتی عمل ہے کیونکہ ادیب اپنے گرد و پیش سے Conform نہیں کر پاتا اور اس کشمکش کی بنیاد پر وہ ادب تخلیق کرتا ہے۔ ایک طرح سے تو سارا ادب مزاحمتی ہے اور ہر ادیب باغی۔"۴

دغه شان د مزاحمت د نوي تصور نه وړاندې هم چې په ادب کښې د مزاحمتي روئيو کوم عکس ليدی شي او بيا په خصوصي توګه د امرانه جبر په ماحول کښې چې اديب په کوم علامتي اظهار مجبور وي د هغې عکاسي ابرار احمد په دې توګه کوي۔

"ہمارے ادیب پر کئی طرح کی پابندیاں ہیں۔ جہاں آزادی اظہار ہو وہاں اپنے نقطہ نظر اور نظریے کے بھرپور اور دوٹوک اظہار کے امکانات روشن ہوتے ہیں اور جہاں اظہار پر قدغن ہو، احتساب کا خوف ہو، وہاں لا محالہ ادیب علامت اور استعارے میں پناہ لینے پر مجبور ہو جاتا ہے اس پر خوف اور گھٹن طاری ہو جاتی ہے۔ ہمارا ادیب زیادہ تر متوسط طبقے سے تعلق رکھتا ہے ۔اور جدوجہد کے عمل کی ابتدا میں اس طبقے کی وابستگی جذباتی ہم آہنگی کی حد تک ہی ہوتی ہے اس لئے اگر جبر کے خلاف ہمارے ادب میں ایمائیت، رمز و کنایہ اور علامت کا سہارا لیا جاتا ہے تو یہ ایسا ناقابل فہم بھی نہیں ادیب پر اس کا معاشرہ بھی پابندیاں لگاتا ہے۔ اگر ادیب کا منصب عوام کو توہمات روایات، تعصبات اور جہالت کی دلدل سے نکالنا ہے تو پھر اس کی کوشش کو انہیں تعصبات اور جہالت کا شکار نہیں بننا چاہئے۔"۵

دا هغه پس منظر دی چې د مزاحمت د نوې اصطلاح نه مخکښې ئې په ادب کښې نخښې ليدی شي ـ کله چې مونږ د يوې جديدې ادبي اصطلاح په حېث د مزاحمت خبره کوو نو په دې حقله وئيلی شو چې دغه نوی تصور او اصطلاح په وړومبي ځل په کال ۱۹۶۶ء کښې د فلسطيني ادب په ذريعه مخې ته راغلې ده کله چې په فلسطين کښې د امرانه جبر په ردعمل کښې اديبانو او شاعرانو د خپل باغيانه او انقلابي روئيو څرګندونه په ادب کښې وکړه نو دغه اظهار او څرګندونې ته د مزاحمتي روئيو نوم ورکړی شو ـ د مزاحمت نوې اصطلاح په وړومبي ځل د

فلسطيني ليکوال ګاسن کنفاني (Ghasan Kanafani) په ليکونو کښې په کال ۱۹۲۲ء کښې مخې ته راغلې ده چې په خصوصي توګه د امرانه حکمرانۍ او فوجي قوتونو د بې جوازه جبر خلاف د اواز او نقلاب په شکل کښې ئې سر ښکاره کړې دی او دغسې تر دې دمه په هر ملک او ټولنه کښې د فوجي امريت خلاف د مزاحمت د پاره دا اصطلاح پکارولی شي. مغربي دانشورې باربره هارلو (Barbra Harlo) په انګريزۍ ژبه کښې وړومبی باقاعده تخليقي کتاب په کال ۱۹۸۷ء کښې د (Resistance literature) مزاحمتي ادب په نوم ليکلی دی چې د فلسطيني امرانه پس منظر په حقله ئې په خصوصي توګه او د نړيوال امرانه روئيو ئې په عمومي توګه وضاحت کړې دی د باربره هارلو دا کتاب په ۲۳۴ صفحو مشتمل دی چې د Methuen,New Yark and London لهٔ خوا چاپ شوی دی. باربره هالو د دغه نوي ادبي اصطلاح وضاحت داسې کوي:

> " The term resistance was first applied in a description of palestinian literature in ١٩٦٦,the Palestinian writer and critic Ghassen kanafani in his study " Literature of resistance in occupied Palestine:١٩٤٨-١٩٦٦ " kanafanis critical essay was significantly,written in ١٩٦٧ before the june war of ١٩٦٧."۶

ترجمه: (د مزاحمت اصطلاح په وړومبي ځل د فلسطين ليکوال او نقاد ګاسن کنفاني په ادبي تحرير " په مقبوضه فلسطين (۱۹۲۲-۱۹۴۸) کښې مزاحمتي ادب کښې استعمال شوې ده د کنفاني مضمون په اصل کښې د فلسطين د جون ۱۹۲۷ء د جنګ نه وړاندې په کال ۱۹۲۲ء کښې ليکلی شوی ؤ . )

دغه شان د مزاحمتي ادب د پاره بنيادي حواله د فلسطين ادب وګرځېده او په جديد پس منظر کښې چې په نړۍ کښې مزاحمتي ادب خبره کېږي نو باقاعده ابتدا ئې د فلسطيني ادب دغه مزاحمتي پس منظر نه کېږي . زمونږ پښتون دانشور سليم راز هم دې لور ته اشاره کوي او ليکي:

> " د فلسطين د مسئلې په عالمي سطح اوچتولو
> کښې د فلسطين د مزاحمتي ادب ډېر لوئي لاس دی
> دا د فلسطين مزاحمتي ادب دی چې فلسطينيانو ته
> د ژوندي اوسېدلو چل او هنر وښودلو د ازادۍ په

> معنا او مفهوم ئې پوهه کړل ۔ د جدوجهد او قربانۍ سبق ئې وښودلو او هم دغه د فلسطين مزاحمتي ادب دی چې عالمي ضمير ئې د ګرېوان نه ونيولو، وخوځولو او ويښ ئې کړو ۔"۷

اوس چې مونږ ته د مزاحمتي ادب دغه پس منظر او د مزاحمت د ادبي اصطلاح بنيادي مفهوم جوت شو نو مونږ په صحيح تناظر کښې د قلندر مومند د سباؤن په شاعرۍ کښې د مزاحمتي روئيو جائزه اخستلی شو ۔ خو دلته د دې خبرې وضاحت يو ځل بيا ضروري ګڼم چې د سباؤن د شاعرۍ په رڼا کښې د قلندر د شاعرۍ جائزه به مونږ د مزاحمت د مجموعي تصور په رڼا کښې اخلو چې د کال ۱۹۶۲ء د جديدې مزاحمتي اصطلاح نه وړاندې مزاحمتي روئيې به هم په نظر کښې ساتلی شي ځکه چې مونږ وړاندې وضاحت کړی دی چې ادب او تخليقي عمل په خپله يوه مزاحمتي روئيه ده او بيا په هر دور کښې د ظلم، جبر، امريت او استحصال په ضد اواز پورته کول خو يو داسې شديد ردعمل دی چې د مزاحمتي روئيو بنياد ګرځي ۔

اوس چې د قلندر د سباؤن شاعري په دغه تناظر کښې څېړو نو يو خوا راته د هغۀ د چاپېرچل او عصري جبر په نظر کښې راځي او بل خوا د قلندر داخلي مزاج کښې د مزاحمت شدت او انقلابي روئيې ځرګندېږي مونږ که د هغۀ نظم ته ګورو او که غزل ته خو دغه شدت، مزاحمت او هېجان ئې د شاعرۍ مرکز او محور جوړ کړی دی۔ دروېش دراني د هغۀ دغه شدت او مزاحمت ته اشاره په دې توګه کړې ده:

> "د سباؤن نه پس چې محترم قلندر مومند کومه شاعري کړې ده هغه لا پۀ کتابي بڼه تر چاپه نه ده رسيدلې ۔ زمونږ مخته هم دغه د سباؤن شاعري پرته ده چې په بنيادي ډول د انقلاب او مزاحمت شاعري ده ۔ د دغسې شاعرۍ د شاعر د پاره غزل ليکل اسانه خبره نۀ وي ۔ خو په سباؤن کښې د نظمونو سره سره غزلې هم شاملې دي او زمونږ شاعر

دغه د انقلاب او مزاحمت خبرې د غزل په دې نازکه
ابګينه کښې ښۀ په هنر سره ځائی کړي دي ـ "۸

درویش دراني هم په دغه لیک کښې د قلندر د غزل او نظم دواړو په حقله رائې څرګندوي او په دواړو صنفونو کښې د جمالياتي تاثر نمائنده ګڼي ـ هغه وړاندې ليکي:

" لکه څنګه چې محترم قلندر مومند په غزل کښې خوړه او ښکلې شاعري کړې ده دغه ډول د هغۀ د نظم شاعري هم ډېره ښۀ او خوندوره ده ـ د نظمونو په مقصدي يا مزاحمتي برخه کښې ئې زياتره نظمونه د لوړ اهنګ نظمونه دي ـ پۀ دغسې نظمونو کښې لۀ زياترو شاعرانو څخه شاعري نعره بازي شي خو د قلندر صاحب دغه نظمونه نعره بازي نۀ ده شاعري ده ـ "۹

د درويش دراني دغه رائې درسته ده چې په مرسته کښې ئې د قلندر د نظم او غزل دواړو نه څو نمونې وړاندې کوم په خپل يو نظم " شاعره" کښې شاعر ته مخاطب دی او د خپلو مزاحمتي روئيو څرګندونه کوي بلکې د هر شاعر نه د جبر او ظلم خلاف د مزاحمت غوښتنه کوي او وائي:

"شاعره! نن خو څو خبرې واوره
څو اسويلي په زړۀ دننه لرم
تۀ چې د ګل څېرې ګرېوان ليدی شې
راشه د اور ډکه لمنه لرم
منم خوبان ښۀ وي خو غوږ ونيسه
که زۀ هر څو څهره پمنه لرم

بس دی دا سرې شونډې دې وستائيلې
اوس د زخمونو د ستائيلو وخت دی
د تورو سترګو صفتونه وشو
اوس د سرو سترګو د کتلو وخت دی

زما د زخم نه پلؤ لرې کړه
د پرهرونو د سپړدلو وخت دی

ستا په وېنا مې زړګی وتښکلو
خو ولې نور دوکه کېدلی نۀ شي
او فرض کړه زړۀ مې بيا دوکه شي نو څۀ
چې تور نماښام سبا کولی نۀ شي
که اجازت وي نو پوښتنه کووم
ولې دا لړې ورکېدلی نۀ شي."۱۰

دغه شان پۀ خپل يو بل نظم کښې خپلې مور ته چې د کومو جذباتو اظهار کوي نو شدت او مزاحمت ته ئې ځېر شئ۔

"زما د سرې ډولۍ ارمان مۀ کوه
په وينو سرې دا جنازې ووينه
تۀ د لونګو د خېرو ويار وخوړې
د ژوندو څلي او خازې ووينه
د خپلې نږور شونډې به اوس هم ستائې
لړې د زړونو ترازې ووينه

چې دا ويرونه فريادونه اورم
زۀ د سندرو په خوند څۀ پوهېږم
چې د انسان وروستۍ سلګۍ وي مورې
زۀ د قلارې په ژوند څۀ پوهيږم
چې عالم لوږې نه القارې کوي
زۀ به د پورې په شخوند څۀ پوهېږم"۱۱

د نظم نه علاوه د قلندر په غزل کښې د دغو مزاحمتي روئيو څېړنه کوو نو

هم راته د هغهٔ د تغزل او د غزل د نزاکت باوجود یو شدید ردعمل په نظر راځي ـ د غزل څو نمونې ئې هم وګورئ چې وائي ـ

"چې په دې فولادي بند کښې بندیوان یم
مګر زهٔ جوړې زمری د بیابان یم

رڼائي مې په تیارو کښې یو په دوه شي
زهٔ د یاس په تروږمو کښې کهکشان یم

چې د کوټ او ځولنو یاد مې تازه کړو
زهٔ د دې دور هجري یا خوشحال خان یم

سرکش فکر مې قرار نهٔ سرتابي کړي
سرنګون نهٔ یمه ښهٔ ده سرګردان یم

د ګل چین حاسدو سترګو کښې غړېږم
محافظ یمه کښې د ګلستان یم"۱۲

هم دغه شدت، بغاوت، انقلاب، سرکشي او مزاحمت ئې په دې لاندیني غزل کښې هم وګورئ ـ

"نن د قلندر چې د نمرود سره تکرار دی
خود د ابراهیم پشانې خوښ په سور انګار دی

تهٔ ئې په قفس کښې په چمن کښې نو بهار دی
یه بلبله ستا نصیب هم ما پشانې خوار دی

هلته په افق کښې صلیبونه راته خاندي
دلته په مسکا راته ستا غېږه ستا کنار دی

خبر دی که د حق په حمایت ئې لاس قلم کړي څوک
نن چې قلندر روان په لار د علمدار دی[۱۳]

د قلندر په ګڼ شمېر غزلونو کښې د جذبې دغه شدت او د غصې د کېفیت احساس غزونې کوي چې په اصل کښې د هغهٔ د مزاحمتي روئیو څرګندونه کوي ـ د هغه په غزل کښې چې د غصې د احساس کوم اظهار شوی دی هغې د قلندر غزل ته یو جلالي رنګ او اهنګ وربخښلی دی ـ دغه د غصې د کېفیت اظهار او جلالي رنګ ئې د ډاکټر حنیف خلیل په الفاظو کښې داسې څرګندولی شو ـ

> " هم دغه جلالي انداز سره ترلی د هغهٔ بل شاعرانه خاصیت مزاحمتي رنګ خپلول دي ـ دغه مزاحمت د هغهٔ د ترقي پسند سوچ او اشتراکي نظریې یوه برخه ده ـ د دې قسمه هیجاني جذبې، رسا فکر او جلالي کېفیت د ښودنې د پاره عموماً د نظم لاره خپلولی شي ـ ځکه چې د غزل نازک مزاج او د تغزل تقاضې د دې قسمه جذبې او احساس دروند بار نهٔ شي اوچتولی خو د قلندر صاحب فنکارانه صلاحیت او شاعرانه ریاضت هغه په دې هم قادر کړی دی چې د غزل په لمن کښې دغه ملغلرې هم واچوي او د تغزل شان هم برقرار وساتي ـ "[۱۴]

مونږ چې د قلندر په نازکه پېرایه کښې د جذبې شدت، جلالي رنګ او مزاحمتي اهنګ ته فکر کوو نو دې نتېجې ته هم رسو چې کله کله هغه په دغه اظهار کښې د علامتي اظهار لاره هم خپلوي ځکه چې د ریاستي جبر په وجه مزاحمتي شاعر په دې هم مجبور وي چې د علامت وسیله پکار راولي ـ قلندر که د غزل په ژبه د مزاحمتي روئیو ترجماني کوي نو بې شکه چې د دار او صیلب خبره هم کوي خو ورسره د پښتنو کلتور د ولور او ناوې اصطلاحات هم پهٔ علامتي رنګ کښې راوړي۔ دا څو شعرونه ئې ولولئ:

"چې نصیب مې دی صلیب برخه مې دار ده
دا مې هم سر بلندۍ له یوه لار ده

چې په هره لاره لوټ کړو رهبرانو
پس لۀ دې مو رهروانو کومه لار ده

په ولور کښې رانه وینې د زړۀ غواړي
د ژوندون ناوې زما په انتظار ده

که مرحب د خیبر کوټ باندې مغرور دی
زما هم د قلم څوکه ذوالفقار ده

قلندر لکه خوشحال مغل ته مخ دی
حوصله ئې په تکیه د کردګار ده"۱۵

ناوې د علامت په توګه قلندر په ځینو نورو موقعو هم استعمال کړې ده او یو ځای کښې ئې د "د رڼا ناوې" ترکیب هم په علامتي پیرایه کښې استعمال کړی دی چې په اصل کښې ئې د خپلې مزاحمتي روئیې اظهار کړی دی ـ هغه چې د ظلم او جبر په ماحول کښې د ازادۍ او خودمختارۍ غوښتنه کوي نو علامت ورته د رڼا ناوې راوړي دا څو شعرونه ئې وګورئ نو خبره به واضحه شي:

"چې په خوشحال په رنتنهبور کښې وۀ شوې
هغه کانې په ما لاهور کښې وۀ شوې

د اشنا خیال د قفس ور مات کړو
بیلتونه ډزې دې په کور کښې وۀ شوې

خلق د دوه ورځو فراق کښې سوزي
زما خو میاشتې په دا اور کښې وۀ شوې

د رڼا ناوې دغه ټولې قیصې
ما سره ستا د مېنې تور کښې وۀ شوې

د زندانونو د وفا په عوض
ناشونې وۀ شوې خو په زور کښې وۀ شوې[۱۶]

ګویا قلندر چې د زندان د تورو تمبو شاته شوی دی نو جرم ئې دا دی چې د رڼا ناوې سره د مېنې تور پرې لګېدلی دی۔ یعنې هغه د رڼا ناوې (ازادي او خودمختاري غواړي). د رڼا د ناوې سره د مېنې په دغه احساس کښې قلندر د ډېرو سختو سره مخامخ شوی دی ډېر یاران ئې بائیللي دي خو په هر حال کښې ئې د مزاحمت لمن نۀ ده پرېښې ـ هغۀ په جار وئیلي دي چې:

"داؤ به کړې یاران پرې قلندره ډېر
تۀ چې کومه لار د ژوندانۀ غواړې"[۱۷]

د ژوندانۀ د دغې لارې په چوڼ او لټون کښې قلندر چې ځۀ ګټلي او ځۀ بائیللي دي د هغۀ تجزیه ډاکټر یار محمد مغموم خټک داسې کوي:

" خو د دغې لار په ګردونو کښې د هغۀ نه چرې هم خپل زاړۀ ملګري ورک شوي نۀ دي ـ د دغې لار ظلمتونو د هغۀ په زړۀ د بدنیتۍ تیارې نۀ دي راوستې ـ د دغې لار ازغو د هغۀ د ذهن نه د خپل وطن د سپرلي تصویر نۀ دی هېر کړی ـ

"ګلستان که مې پۀ وینو تازه کېږي
هر ازغی دې هم زما په زړۀ کښې مات شي

تاسو که رشته د مینې پرې کړه رانه ببل شوئ
زۀ به مو د لارې رقیبانو یادووم"۱۸

دغه د قلندر د ژوندانۀ لار ده چې د ازغو ډکه ده خو قلندر ئې پروا نۀ کوي او هر ازغي ته خپله هرکلي وائي ۔ ځکه چې د هغۀ شاعرانه روئیه مصلحتي نۀ ده مزاحمتي ده ۔ هغه د حالاتو سره د سمجهوتې قائل نۀ دی بلکې حالاتو سره د مقابلې جرأت کوي ۔ دا هر څۀ قلندر مومند ځکه کوي چې د هغۀ د مزاحمتي روئیو نتیجې د یو روڼ سحر او د رڼا د ناوې په شکل کښې هغۀ ته ښکاري. مونږ که په علامتي اظهار کښې د قلندر د مزاحمتي روئیو جاج اخلو او که نېغ په نېغه مونږ که د هغۀ په نظم کښې دغه مزاحمتي رنګ لټوو او که په غزل کښې ۔ په هر شکل او هر رنګ کښې مونږ ته قلندر د یو شدید مزاحمتي شاعر په حېث رامخې ته کېږي ۔ دغه شان که مونږ د هغۀ په شاعرۍ کښې د کال ۱۹۷۲ء د جدیدې مزاحمتي اصطلاح د رواج نه مخکښې د هغۀ د شاعرۍ تجزیه کوو او که د دغه دور نه وروستو ۔ په هر دور کښې د هغۀ په شاعرۍ کښې د مزاحمتي روئیو څرګندونه شوې ده چې دلته ئې د نظم او غزل دواړو نه څو نمونې نورې هم وړاندې کوو چې په دې طریقه د هغۀ د شدید مزاحمتي ردعمل انداز زیات په واضحه توګه زمونږ مخې ته راشي ۔ خپل نظم "خېبر ته" کښې داسې ګویا دی ۔

"ستا په سینه مدام پردي تلي دي
دا ځل تلي د فرزندانو ښکل کړه
غړانګ خېبره تا تیمور لیدلی
ځلانده تُوره د ځوانانو ښکل کړه
تا د بابر بربریت لیدلی
ببر سرونه د خوارانو ښکل کړه
داسې زامن درله وطن زېږوي
غېږ کښې دې ساز د انقلاب غږوي
ستا دنګه غاړه به اوس دنګه وي تل
په دانګو دانګو یو منزل ته روان
یا به اسمان ستا په لمن راټیټ کړو

یا به دې جګ کړو لهٔ اسمانه نشان
یا به پرې خپل امانې ځان تاله کړو
یا به دنیا غواړي لهٔ مونږه امان
د ایمل تُوره پاڅېدلې وینم
د خوشحال وینه قارېدلې وینم"۱۹

د پښتو د نومیالي، انقلابي شاعر، اتل او ملي مبارز کاکاجي صنوبر حسېن مومند چې د ظلم او جبر خلاف ئې ټول عمر مزاحمت کړی دی ۔ قلندر د هغهٔ په وړومبي ګرفتارۍ د خپل مزاحمتي انداز ځرګندونه داسې کوي:

"اورم چې بیا زړه قیصه نوې شوه
اورم چې بیا منصور په دار خېژوي
اورم چې بیا د نمرودانو بالکې
زمونږ د غوښو دندوکار خېژوي
اورم چې بیا دا فریبي لوبغاړي
زړه ګوډۍ په نوي تار خېژوي
خو د سبا په روڼ تندي مې قسم
چې دا سودا به ئې سودا پاتې شي
خوشحال خان زېری په اولس کړی دی
نهٔ به اورنګ نهٔ به دارا پاتې شي
حال به اخر ماضي له لاس ورکوي
او مستقبل به د کاکا پاتې شي"۲۰

د نظم د برخې نه علاوه ئې د غزل د مزاحمتي رنګ هم څو نورې نمونې وګورئ:

"چې ګلشن کښې د ازغو حکمراني شوه
ډېره ګرانه د ګلونو باغواني شوه
هائې تقدیره د وخت دغه تقاضه شوه
پېرایه مې د اظهار بې زباني شوه
د واعظ او محتسب په ما ګمان دی

چې د دوي لهٔ ويرې مينه مې فاني شوه
ګل په وينو لويول لويه ګناه ده
ګلستان کښې څهٔ عجبه سلطاني شوه۲۱

هغه د تيارو، ظلم او د نظام رائج کوونکو ته ګمراهان وائي او خپل مزاحمتي جبلت ته ائينې سره نسبت ورکوي او وائي:

ګمراهانو ته په مخ کښې ائينه ږدم
پهٔ کږه کښې هم چې سم يمه کږه ږدم
د تيارو د خدائی پهٔ زړهٔ توره تيارهٔ شي
چې په لاره کښې د خوږ زړګي ډيوه ږدم
خاموشي مې د سرخۍ په خلهٔ وينا کړي
د زړګي په هر يو زخم کښې غنچه ږدم
تهٔ ازغي کره زما او د ګل منځ کښې
زهٔ په لاره قدم نهٔ ږدمه سينه ږدم
نرغونی په دا خپل سوي نصيب پوهـ يم
د قفس غوندې چې ژبه کښې لمبه ږدم
که د زړهٔ ببرغ مې پرېوتو پښتون يم
ګمان مهٔ ږده چې رقيب ته به وسله ږدم"۲۲

داسې ګڼ شمېر شعرونه په ثبوت کښې وړاندې کېدلی شي چې د قلندر د مزاحمتي روئيو څرګندونه کوي خو دلته په دغو مثالونو ورکولو اکتفا کوو او د دوست محمد خان کامل مومند پهٔ ډېره درانهٔ او مناسبه رائې دا بحث راغونډوو ۔ کامل د قلندر د نظم او غزل دواړو په تجزيه کښې د سباؤن د شاعرۍ په حقله ليکي:

" د نظمونو او غزلونو په دې مجموعه کښې د محرومو، تتلو او غم زپلو او د هغوي د خواخوږو د ملګرتيا او مرستې او د تالانيانو، ناتاريانو او د هغو

ټولو کسانو او ډلو خلاف چې وجود ئې ضروري دی د زیار او مېښود د پاره په شان یو مؤثر او زور داره غږ پورته کړی شوی دی . دغه اواز کښې عمومیت او مقامیت دواړه شته . غم زپلي د هر ځائی غم زپلي دي ... د قلندر په کلام کښې هم هر ځو عمومیت بې د خلقو د تخصیص او ځائی، د تجدید و خیال اظهار او په حالاتو انتقاد شته نو ورسره هغه د مقابلې پښتون اولس د حالاتو خصوصي ذکر هم خپل مقصد او نظرئې سره سم کوي . د قلندر د کلام په دغه برخه خصوصاً پۀ غزلونو کښې د عوامیت او اولسیت سره د وطنیت او قومیت چې یوه فطري او په خپل غیر ملوث حالت کښې غوره، ښه او روغه ده او د پښتو او پښتونولۍ د ځنو اړخونو ډېرې ښکلې او خوندناکې نمونې شته ."۲۳

د دغو شعري نمونو، مختلفو حوالو او تجزئې نه ډېر په اسانه دې نتيجې ته رارسو چې قلندر د پښتو د شلمې صدۍ په جديدو شاعرانو کښې يو داسې مزاحمتي شاعر دی چې هم ئې د خپلې سيمې او اولس په غم زپلي حالت او زمانې په جبر د مزاحمت اظهار کړی دی او هم ئې په عالمي سطح د مظلوم او مجبور اولس سره د ظلم، نا انصافۍ، بربريت او جبر خلاف خپلې مزاحمتي روئيې څرګندونه کړې ده . د هغۀ د سباؤن شاعري د هغۀ د دغو مزاحمتي روئيو يوه روښه هينداره او څرګند ثبوت دی چې په دغه تناظر کښې د تفصلي څېړنې غوښتنه کوي.

# حوالې

[۱] :http//www.The free dictionary.com/resistance retrieved on ۲۲-۹-۱٦.

۲ : راز، سيلم، هغه مونږ په تورو شپو کښې قتليدو چې، مشموله پاکستاني ادبيات، جلد ۲، کال **۱۹۹۵**ء، صفحه: ۹

۳ : ایضاً، صفحه: ۱۱,۱۲

۴ : ابرار احمد، مزاحمتي ادب، مشموله، مزاحمتي ادب اردو، ډاکټر رشيد امجد، اکادمي ادبيات پاکستان، **۱۹۹۵**ء، صفحه: **۴۸**

**۵:** ایضاً، صفحه: **۵۸**

[۶] :Harlo,Barbra, resistance literature, Methuen, New York and London, ۱۹۸۷, p-۱۳۱

[۷]: راز، سليم، پاکستاني ادبيات مشموله، صفحه: **۱۴,۱۵**

۸: دراني، درويش، د سباؤن شاعر، مشموله قلندرمومند، (مرتب)مشتاق مجروح يوسفزی/ زبيرحسرت /فيض الوهاب فيض، د ساهو ليکونکو مرکه/ د ادبي دوستانو مرکه، ۲۰۰۰ء، صفحه: ۱۸۷

۹ :ایضاً، صفحه :۱۹۱

۱۰**:** مومند، قلندر، سباؤن، قامي مکتبه پېښور، **۱۹۷۲**ء، صفحه: **۳**

۱۱ : ایضاً، صفحه: ۲۰، ۲۱

۱۲: ایضاً، صفحه: ۷۲

۱۳**:** ایضاً، صفحه: ۸۹

۱۴**:** خليل، حنيف، ائينې، دانش خپروندونه ټولنه پېښور، اپرېل ۲۰۰۱ء صفحه: **۳۳۳**

۱۵**:** مومند، قلندر، سباؤن، صفحه: ۸۳

۱۶ : ایضاً، صفحه:۷۳

۱۷**:** ایضاً، صفحه: ۹۲

:۱۸ مغموم ختهک، یار محمد، د قلندر غزل، مشموله قلندر مومند فن او شخصیت، (مرتب) م ر شفق، پښتو ادبي سوسائیټي اسلام اباد، **۱۹۹۵**ء، صفحه: **۲۸,۲۹**

۱۹ :مومند، قلندر، سباؤن، صفحه: **۸،۷**

۲۰ : ایضاً، صفحه: **۹,۱۰**

۲۱: ایضاً، صفحه:**۲۷,۲۸**

۲۲: ایضاً، صفحه:**۷۴**

۲۳ : کامل مومند، دوست محمد خان، د سباؤن زیری، مشموله، سباؤن (د قلندر مومند) صفحه:**۸,۹**